
# د ریاضی لارښود
# د لمړی ټولگی لپاره




AFRANE
AMITIÉ FRANCO-AFGHANE

# د رياضی لارښود

# د لمړی ټولګی لپاره

**د کتاب ځانګړینی**

دکتاب نوم: د رياضی لارښود د لمړی ټولګي لپاره

ليکوالان: محمدامين"مخلص" او محمدصادق "صالح جمال"

ژباړونکی: شکريه "کاکړ"

د نظرلاندی: اتين ژيل، محمد حاسين "محب" او حميدالله "ميرزايی"

نوبت چاپ: دوم

تيراژ: ۴۰۰ جلد

## لړلیک


مطالب                                                                 پاڼې

سـریـزه ........................................................................................ ج

وییپانګه........................................................................................ د

۱ – د لمړي اعدادو زدګړه د ترانې په مرسته......................................... 1

۲ – ډلبندی (صنف بندی) د لوبې په واسطه.............................................. 3

۳ – د ابتدایي اعدادو لیکلې بڼې ......................................................... 6

۴ – د صفر پیژندنه............................................................................ 8

۵ – لوبه د پلکونوسره چې اعداد د صفر څخه تر نه پوری په سمبول او عدد لیکل شوي دي . 10

٦ – د مکعبونو سره لوبه ...................................................................... 11

۷ – د اعدادو پرتله(مقایسه) کول........................................................... 13

۸ – د ګل او پرواني سره لوبه ............................................................. 15

۹ – د یو رقمي اعدادو جمع کول د یو رقمي اعدادو سره ............................ 16

د یو رقمي اعدادو جمع کول د یو رقمي اعدادو سره په جدول کی. ........................... 18

د جمعی تبدیلدو خاصیت او د صفر عملیه په جمع کي ........................................ 20

۱۰ – د یو رقمي عدد تفریق د یو رقمي عدد څخه .................................... 21

۱۱ – په ډیرې اندازې، لوبیا سره لوبې ....................................................... 24

۱۲ – الف: د لسیزو اعدادو په سیستم باندې کار ......................................... 26

۱۲– ب: د لسم عدد پیژندنه ................................................................... 28

۱۳ – سلیز عدد باندې کار (فعالیت)............................................................ 31

۱۴ – د ۵۰ ×۵۰ تختې سره لوبه............................................................ 34

۱۵ – د ۵۰ ×۵۰ تختې سره لوبه (د اعدادو پرتله کول)................................ 36

١٦ – د دوه رقمی اعدادو جمع کول د یو رقمی اعدادو سره........................................38
١٧ – د دوه رقمي اعدادو جمع د دوه رقمي اعدادو سره ............................................41
١٨ – د دوه رقمي عددو تفريق د دورقمي عدد نه چې يويز رقم يي صفر وي...................44
١٩ – د دوه رقمي اعدادو تفريق د دوه رقمي اعدادو څخه ..........................................46
اخځليكونه.........................................................................................48

# سریزه

ځنګه چې څرګنده ده، ښوونه او روزنه د بشر د ژوندانه اساس جوړوي او دا هم ښکاره خبره ده چې دغه ښوونه او روزنه د یوه ښه ښوونکي په مرسته سر ته رسېدای شي، نو یو ښوونکی درسي موادو ته لکه: درسي کتابونه، ممد درسي مواد او یو منظم درسي پلان، همدارنګه د ښه درس ورکولو لپاره بیل بیل لارو چارو ته اړ دی تر څو یوه ښه او کامیابه ښوونه تر سره کړي.

کوم کتاب چې ستاسو یې په اختیار کې لرئ، د څو مودې له تجربو او لاس ته راوړنو څخه په همدې اړه ترتیب شوی دی. په دې کتاب کې زیار ایستل شوی دی تر څو د ریاضي د لمړي ټولګي درسي موضوعوې د لوبو تر سره کولو او درسي موادو نه د ګټې اخیستلو سره او د مختلفو میتودونو په کارولو سره مخ ته یوړل شي.

د درسي موادو نه کار اخیستل، له یوې خوا زده کوونکي هڅوي او زده کړې ته مینه پـــــیدا کوي. همدا رنګه د هرې موضوع مانا او مفهوم په ښه توګه وړاندې کېدای شي.

په درناوی

د افرن د موسسی پیداګوژی څانګه

## وییپانګه

ځینو کلمو، مواد او وسایلو ماناوې چې په دغه کتاب کې په کار وړل شوي دي.

| کلمې | د کلموماناوې. |
|---|---|
| قوطۍ | د لسیز جوړولو لپاره. |
| کڅوړه | وړوکي کڅوړه چې له تکې او پلاستیک څخه جوړ شوي دي د سلیز د پیژندلو لپاره. (لس قوطي یه یوه کڅوړه کي اچوو چې یو سلیز کیږي) |
| پلک | کاغذی فلش کارتونه چې بیل بیل اندازی لري په پلاستیک باندي پوښ او پریس شوی دي لکه د عدادو فلش کارتونه، پروانې، یویز ونه، لسیز ونه سلیزونه. |
| د لرګي تخته | تخته د ۵۰ × ۵۰ سانتی مترو په اندازه چې یو خوایې په سلو مساوی برخو باندي ویشل شوي ده او په بله خواکي مستطیل او مربع رسم شوې دي چې داعداد و زدکړې او پرتله کولو لپاره کار اخیستل کیږي. |
| تاس | مکعبي منظمه لرګی دی چې شپږ مخه لري په هر مخ یې دعدد سمبول لیکل شوی دی . |
| عدد | عدد یو وسیله ده د ستونزو دحل لپاره، یا په بله وینا عدد هغه نښه یا وسیله ده چې شمیره څرګندوي. |
| موخه | موخه په لغت کي، دنښې په معنا او په اصطلاح کي هغه ښکارنده یا پدیده چې د عمل څخه له مخه په نظرکې نیول کیږي. شخص خپل توان او د اړتیا وړ درسی مواد دښه زده کړې لپاره په نظر کي نیسي ترڅو خپل موخه ترلاسه کړي. |
| د زده کړې فعالیت | د ښوونکو او زده کوونکو ټول فعالیتونه، (موخې او زدکړې د لاسته راوړلو لپاره په یوې ټاکلې موده کې) د زدکړي فعالیت نومیږي. |
| ډلییز فعالیت | هغه فعالیت چې، زده کوونکي دشمیر په لحاظ، په ۳ او ۶ کسیز ه ډلوویشو چې د استعداد له مخې په هرې ډلي کې درې کتګورۍ زده کوونکي په نظر کي نیول کیږي. |
| انفرادی فعالیت | هغه فعالیت چې هر زده کوونکی په عین موده کې په یواځې توګه د یو ې مسئلې د حل لپاره زیار وباسي د انفرادی فعالیت په نامه یادیږي. |
| درسی مواد | درسی مواد عبارت له هغه څیزونو څخه دي چې ددرس د موخې لاسته راوړلو لپاره کارول کیږی. (خواه محیطی مواد وي او یا د کوم بلې منبعې څخه جوړ شوی مواد) |

دغه کتاب د ښوونکو لپاره یو رهنما دی، ښوونکي کولای شي چې خپل تدریس کې د موضوع په نظر کې نیولو سره له دغه کتاب د فعالیتونو څخه کار واخلي.

## ۱ ـــ د لمړي اعدادو زدګړه د ترانې په مرسته

| |
|---|
| **موخه:** د اعدادو زده کړه او د اعدادو ترتيبول. (د درس لمړۍ برخه) |
| **موده:** زده کوونکوباندې يوه اونۍ کاروشي. |
| **د اړتيا وړ درسي مواد:** مارکر او کاغذ د $A_2$ سايز |
| د آمادګۍ دورې لپاره |

**تبصره:** کومو ښوونکو چې سيمينار ليدلی دی د ترانې ويلو سره بلدتيا لري او کوم ښوونکو چې سيمينار نه دی ليدلی، کولاي شي له دغه ترانې څخه کار واخلي.

**موخه:** د لمړنيو اعدادو د زده کړې لپاره ترانې د ماشومانو سره ويل کيږي، تر څو موضوع سره مينه واخلي. د ښه زده کړي لپاره له ترانې څخه کار اخلو تر څو د زده کوونکو په ذهن کې پاتې شي.

**فعاليت:** ترانه، يوه اونۍ په زده کوونکو باندې وويل شي او کاغذ باندې وليکل شي او ديوال باندي ځوړند شي.

هره ورځ رياضی د درس په پيل کې ترا نه د اعدادو زده کړې لپاره د زده کوونکو باندي تکرارشي.

ترانې څنګه په زده کوونکو باندې وويل شي؟

- ښوونکي به ترانۍ لولې او زده کوونکي ورته غوږ نيسي.

- او وروسته زده کوونکي لولي او له ياده يې کوي

يــوه دوه درې　　زه غواړم کتــابچې

څلور پنځه شــپږ　　پشـــۍ وخوړه موږک

اوه اتـــه نـــه　　ختکي دي ډېر خواږه

همدارنګه د اعدادو د ښه حفظ کولو لپاره ښوونکي کولاي شي د ترانې برعکس ووايي.


نــه اتـــه اووه ګران يم پــه نيکــه

شـــپږ پنځه څلور ځم مکتــب پــه لور

درې دوه يـــو غــنـــم کـــوو لـــو

ښوونکي او زده کوونکي کولاي شي نورې ترانې جوړې کړي.

تبصره:




## ۲ – ډلبندۍ (صنف بندی) د لوبې په واسطه


| |
|---|
| **موخه:** د رنګونو پيژندل، ورته والی او اعداد د اشکالو په واسطه ترتيبول<br>**موده:** ۵,۱ د درسی ساعت<br>**لازمی مواد:** پلکونه ۷ پر ۱۰ سانتی متره چه پرمخ يی بېل بېل رنګونه، بېلې بڼې، په مختلف تعداد رسم شوی دي او (patafix) سريش .<br>**فعاليت:** په ډ ليزه توګه د چارسرته رسول، ګروپونه د زده کوونکو د شمير په لحاظ تنظيم کېږي.<br>د امادګي دوری لپاره، دغه فعاليت د رياضی درس په اصل کې شامل ندی او مونږ زده کوونکي په خپل حال پرېږدو آيا بې له رنګه او بڼې زده کوونکي داعدادو سره پيژندګلوي لري که نه، وروسته د اعدادو بڼې زده کړې لپاره د اعدادو ليکل او لوستل زده کوونکو ته وړاندې کوو. |

**د لوبې سرته رسول:** لمړی ښوونکی ټولګی د زده کوونکو شمير په لحاظ ګروپونو کې تنظيم کړي او پلکونه په مساويانه ډول ګروپونو باندې وويشي او ورته لار ښونه وشي چې پلکونه صنف بندي کړی. ښوونکی ګروپونه وڅاري تر څو يو ګروپ بل ګروپ ته و نه ګوري .


لمړی ښوونکی موخه بيان نه کړي، تر څو زده کوونکي موخه پيدا کړي او د هر ګروپ څخه يو غړی خپل کار تشريح کړي د هرګروپ تشريح نه وروسته، ښوونکی بايد درې ګروپه غوره کړي چې ډلبندي يې په ښېلو بڼو کړې وي. د بېلګې په توګه لمړی ګروپ د رنګ له مخې، دويم ګروپ د ورته والي له مخې او دريیم ګروپ د شمېر له مخی (يو پر يو، دوه پر دوه، درې پر درې همداسې څلور پرڅلور يې) جوړ کړي وي. پلکونه په ګروپونو باندې وېشو او له زدکوونکو څخه غواړو چې ډلبندي يې کړي، وروسته ښوونکی وګوري چې زده کوونکو دغه پلکونه په کوم ډول ترتيب کړي دي، وروسته د هر ګروپ استازی خپل کار تشريح کوي چې څنګه يې ترتيب کړي او کوم څيزونه پيژندل شوي دي.




**بېلګه ۱:** ممکن يو ګروپ داسې کار کړی وي. ليدل کيږي چې لومړي ګروپ رنګونه پېژندلي دي (زيړ يې پر زيړ، سور يې پر سور او شين يې پر شين) پرې ايښي دي.



**بېلګه ۲:** ممکن دويم ګروپ داسې کار کړی وي. ليدل کيږی چه دويم ګروپ څيزونه د ورتوالي له مخې پيژندلي دي لکه: (درې کنجي د درې کنجي، څلور کنجي له څلور کنجي اودايروي يې د دايروي) سره ايښي دي.



**بېلګه ۳:** ممکن دريېم ګروپ داسې کار کړی وي. ليدل کيږي چې دريېم ګروپ، د شکلونو شمېر په نظر کي نيولی دی، د اعدادو مفهوم يې پيژندلی دی (يو له يو سره، دوه له دوه سره) څنک ترڅنک



ایښودل شوي دي درې واړه ګروپونو صحیح کار کړی دی البته په مختلفو طریقو سره. ښوونکی کولای شي د صنف بندي موخه بیان کړي.

**د صنف بندي موخه:** د رنګونو پیژندل، پیژندل د ورته والي او د ښو شمېرله مخې چې زده کوونکي وکولای شي رنګونه، مشابهتونه (ورته والی) او د شکلونو شمیر یو له بل څخه توپیر کړی شي.

## ۳ – د ابتدايي اعدادو ليکلې بڼې

**موخه:** د عدد زده کړه د يو څخه تر نه پورې


**موده:** ۹ تر ۱۰، درسي ساعتونه

**د اړتيا وړ درسي مواد:** ۷ × ۱۰ سانتي متره پلکونه چې اعداد د يو نه تر نه پورې په سمبول او عدد ليکل شوي دي(patafix) سرېښ.

**فعاليت:** په انفرادی ډول کار کيږی او نور زده کوونکي غوږ نيسي

د لمړی ټولګی کتاب لومړي فصل څخه

**تبصره:** ښوونکی کولای شي چې، درسي پلان په نظر کې نيولو سره دغه فعاليتونه د کتاب سره تطبيق کړي.






د لوبی سرته رسول: د يو نه تر نه پورې د اعدادو زده کړه، پلکونه چې پريو مخ يې عدد اوپر بل مخ يې نښه يا سمبول ليکل شوی. په انفرادي ډول کار واخيستل شي لکه د مخامخ انځور په څير:

اوس هغه پلکونه چه اعداد په سمبول ورباندې ليکل شوي کار اخلو او له زده کوونکو څخه پوښنتو چې، څو ګردی (توپک) دپلکونوپرمخ وينی؟ وروسته سمبول پر تختی ځوړندو لکه مخامخ انځور په څير:

له زده کوونکو څخه پوښتنه وشي چې: څو دانی ګردۍ وينئ؟ زده کوونکي به ځواب ورکړي چې يو. وروسته ښوونکی د عدد سمبول د عددو تعداد لاندې ځوړندوي او ښوونکی وايي چې:
يو د يو يويز نه جوړ شوی دی په همدا ډول دوه، دری... وروسته هغه پلکونه چې اعداد په سمبول پرې ليکل شوي دي زده کوونکو ته بيل بيل ښکاره کوو او د هغه پلکونه چی اعداد په تعداد پری ليکل شوي دي، لاندې ځوړندو، ښوونکی وايي چه يو ديوه يويزو څخه، دوه د دوه يويز، دری د دری يويز او... تر نهم عدد پورې همدا ډول مخ ته ځو.

وروسته د تختي پر مخ د هر عدد لاندي د ليكلو طريقي او د عدد حركت او جهت ليكو لكه د مخامخ انځور په څير:




د تشريح نه وروسته د ښي زده كړي لپاره د اعدادو سمبولونه د يوه څخه تر نهم عدد پوري د تختي پر مخ ځوړندو د ببلگي په توگه ۴، ۵، ۶، او ۸ چي عدد په تعداد پري ليكل شوى دى، د تختي پر مخ ځوړندو او هغه پلكونه چه عدد په سمبول پري ليكل شوى د ميز د پاسه په غير منظم ډول پريږدو او په انفرادي شكل د زده كوونكو څخه غواړو (۵) چي په عدد ليكل شوى د ميزله مخي واخله او د پنځم عدد تعداد چي د تختي باندي ځوړند دى، څنگ ته يي وځړوه.



هم داسي د نورو زده كوونكو باندې كار كوو. د مخامخ انځور په څير:



## ۴ ــ د صفر پیژندنه

**موخه:** د صفر پیژندنه

**موده:** ۱ څخه تر ۱.۵ در سي ساعت پورې.

**د لازمی موادو شتون:** پلکونه چه پروانی وربانذی رسم شوي دي، سریښ (Patafix) او لوبیا


**فعالیت:** په انفرادي توګه کار کیږی او نور زده کوونکي ورته ګوري.

لمړی فصل، د کتا ب ۲۷ پاڼه .

**د لوبې سرته رسول ۱:** د صفر زدکړه په انفرادی توګه: د بیلګی په توګه څلور پروانې د تختې پرمخ ځوړندو او د زده کوونکو څخه غواړو یوه یوه پروانه واخلي کله چه څلور پرواني واخیستي، ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتي چې څو پرواني د تختې پرمخ پاتي دي، زده کوونکي به خوا مخوا ځواب ورکړي چې هیڅ؛ ښوونکی به ووایي چې: هیڅ ته په ریاضی کښی صفروایی.



د پروانو نه انځوره د تختي پر مخ ځوړندو؛ له زده کوونکو څخه پوښتو چې څو پرواني د تختي پر مخ وینئ؟



زده کوونکي به خامخا وایي چې: نه داني پرواني، روسته یوه یوه پروانه له تختي څخه لرې کوو او وایو چې: نه پرواني د ښاخ پر سر ناستي وې یوه والوته پاتي شوې اته پرواني پر ښاخ ناستي وې یوه پروانه والوته پاتي شوې اووه همداسي تر هغه پورې مخ ته ځو تر څو چې یوه عدد ته ورسیږو او په پای کې وایو یوه پروانه پر ښاخ ناسته وه هغه هم والوته پاتې څو ؟ هیڅ ! هیڅ ته په ریاضي کې صفر وایي .

او همدارنګه کولاي شو دصفر دښي زده کړې لپاره له ترانې څخه کار واخلو:

| | |
|---|---|
| نـه پرواني دښـــاخ پـه ســـر | یوه یې والوته پاتې شـــوې اته |
| اتـه پرواني دښـــاخ پـه ســـر | یوه یې والوته پاتې شـــوې اوه |
| اوه پرواني دښـــاخ پـه ســـر | یوه یې والوته پاتې شـوې شـپږ |
| شـــپږ پرواني دښـــاخ په ســر | یوه یې والوته پاتې شـوې پنځه |
| پنځه پرواني دښـــاخ په ســـر | یوه یې والوته پاتې شوې څلور |
| څلور پرواني دښـــاخ په ســـر | یوه یې والوته پاتې شـوې درې |
| درې  پرواني دښـــاخ په ســـر | یوه یې والوته پاتې شـــوې دوه |
| دوه  پرواني دښـــاخ په ســـر | یوه یې والوته پاتې شـــو ه یوه |
| یوه  پروانه دښـــاخ په ســـر | یوه یې والوته پاتې شـــو صـــفر |

**د لوبې سرته رسول ۱:** مونږ کولای شو د صفر یو بل فعالیت سرته ورسوو او د لوبیا نه کار واخلو.
د زده کوونکو په مخ د زیرمې نه ۹ دانې لوبیا شمیرو د ورغوي پر مخ باندې یې ږدو.
لکه لاندې انځور:



بیا د ورغوي څخه یوه یوه لوبیا اخلو ترڅوهیڅ لوبیا زمونږ په لاس کی پاتې نشي او په پای کې د زده کوونکو څخه پوښتنی کوو: زما په لاس کې څو لوبیا پاتې دي؟
زده کوونکي شاید ځواب ووایي، هیڅ!
ښوونکی به وایی چه هیڅ ته د ریاضی په ژبه صفر وایی.

## ۵ ــ لوبه د پلکونوسره چي اعداد د صفر څخه تر نه پورى په سمبول او عدد ليکل شوي دي


**موخه:** د اعدادو زدکړه په دوه بڼو(عدد اوسمبول)

**موده:** يوه نه تر دوه درسي ساعتونه .


**لازمى درسي مواد:** د پلکونو دوه بنډ له ۱۴×۱۰ سانتی متره چي په يوه مخ يي عدد اوپه بل مخ يي سمبول ليکل شوى دى.

**فعاليت:** په يوکسيزه توګه سر ته ورسول شي.

لمړى فصل د کتاب څخه



**د لوبي سرته رسول:** لمړى هغه پلکونه چي تعداد يي پر مخ ليکل شوى، وروسته هغه پلکونه چه سمبول يي په مخ ليکل شوى تختي کي ځوړندوو لکه صفر په تعداد صفر په سمبول يو په تعداد يو په سمبول (يو د يو يويزو څخه جوړ شوى، دوه د دوه يويزو څخه، دري د دري يويز) همدارنګه ترنه پوري مخ ته ځو ترڅو زده کوونکي دواړه بڼي (سمبول، عدد) زده کړي. د مخامخ او د لاندي انځور په څير:



## ٦ ـ د مکعبونو سره لوبه

**موخه:** د یو رقمی اعدادو ښه زده کړه.

**موده:** د درسی یو ساعت.

**د اړتیا وړ درسي مواد:** د لرګي مکعبونه چې اعداد په سمبول وربانديِ رسم شوي دي، ۹ پلکونه چې اعداد وربانديِ لیکل شوي دي.


**فعالیت:** په ډلییزه توګه کار وشي.

د کتاب لمړی فصل څخه



**تبصره:** ډلییز کار، مشورتي کار دی چې یو فعالیت د یو بل په مشورې سرته رسیږي او وروسته د هر ګروپ استازی خپل کار تشریح کوي.

**د لوبې سرته رسول:** په ډلییزه توګه کار وشي د زده کوونکو په شمیر ټولګی تنظیم شي. د یوه څخه ترنه عدد دښې زده کړی لپاره له مکعبونو څخه کار واخستل شي. هر یوه ګروپ ته یو یو مکعب ورکړل شي او لاربښونه وشي چې هر ګروپ خپل مکعبونه د ټولګي پر مخ او یا د میز پر سر واچوي، د مکعب پر مخ چې کوم سمبول راغی، د هم هغه په شمیر لوبیا د زیرمي نه واخلي او د هغه په شمیر پلکونه چه عدد په کې لیکل شوی دی پیدا کړي، د لاندې انځور په څېر:



ولیدل شي چې زده کوونکو په ښه توګه پیدا کړي دي که نه؟ د بېلګې په توګه: یو زده کوونکی مکعب د ټولګي یا د میز پر مخ اچوي چې پر مخ یې ۷ عدد لیکل شوی دی لیکن زده کوونکي ۸ عدد اخیستی دی چې هغه اشتباه کړې ده او زده کوونکی د هرې اشتباه څخه جزایي کېږي او ۹ لوبیا ورکوي په آخر کې هغه ګروپ، ګټوونکی دی چه لږه لوبیا هغه سره وي.

## ۷ – د اعدادو پرتله(مقایسه) کول

**موخه:** د لږ، ډېر او مساوی شمېرو پیژندنه(= و<>).


**موده:** درسي دوساعته.

**دارتیا وړ درسي مواد:** ۱۵ داني پلکونه چه ګل وربانډي انځور شوی دی، ۱۵ داني پلکونه چه پروانی وربانډی رسمول شوی دی او سریښ Patafix.

**فعالیت:** د انفرادی په بڼه کاروشی


د کتاب د لمړی او دویم فصل څخه.

تبصره: په لاندي چوکاټ کي، انفرادي فعالیت ترسره کیږي.




له مخکي یو شمیر ګلان د تختي پر مخ ځوړند شوي او پرواني د ښوونکي سره وي، یوه زده کوونکي څخه وغوښتل شي چي د ګلانو په شمیر له ښوونکي څخه پرواني واخلي .

د لوبي سرته رسول: لوبه په یو کسیزه توګه سر ته رسیږي ښوونکی هر ځل د ګلانو شمیر ته تغیر ورکوي او د ګلانو پلکونو شمیر د ۷ څخه زیات نه وي، د تختي پرمخ ځوړند کړي د مخامخ انځور په څیر. اوس ښوونکی یوه پروانه لږ یا ډېر دګلانو د شمیر څخه زده کوونکو ته ورکوي او زده کوونکو ته وویل شي چي پر هر ګل یوي پرواني ځوړند ک ړه.



اوس د زده کوونکي څخه پوښتنه کیږي، کوم کار چه تا کړی دی صحیح دی که اشتباه؟ د زده کوونکي ځواب به صحیح نه وي ځکه چي یوه پروانه نسبت د ګل نه زیاده ده د زده کوونکو نه پوښتنه وشي چي څو ګلان اوڅو پرواني دي؟ د ګلانو شمیر او د پرواني شمیر پر تختي ولیکه وروسته ښوونکی تري پوښتنه وکړی چه ۸ ډیر دی او که ۷؟



زده کوونکی شاید ځواب ورکړی: ۸ ډیر دي ځکه چې: د ګلانو پرمخ مي پرواني کېنودلي، هر ګل ته یوه پروانه ورسیده او یو پروانه ماسره پاتي شوه ځکه پروانو شمیره ډېره ده نو د ریاضی په ژبه کي داسي لیکلی شو: (۷>۸)

دا ځل د ګلونوشمیر ته تغیر ورکوو. د تیر فعالیت په بل زده کوونکی باندی کار کوو. خو توپیر به یی دا وی چه د ګلانو دشمیر نه یوه دانه پروانی کم ورکړل شی اوزده کوونکو نه غواړو چه د ګل په سر یوه یوه دانه پروانه ځوړند کړه.




اوس د زده کوونکي نه پوښتني کیږي، کوم کار چه تا کړی دی صحیح دي که اشتباه؟ زده کوونکی شاید ځواب ورکړي چي زما کار صحیح نه دی ځکه یوګل پرته له پرواني پاتي دی. اوس د زده کوونکونه پوښتنه وشی چي څوګلان د تختي پر مخ وه؟ څوداني پرواني د ګلانو پر مخ کېښودل شوي؟ د ګلانو شمیراو د پروانو شمیر د تختي پرمخ ولیکئ. ښوونکی د زده کوونکي څخه پوښتنه کوي چه ۸ کم دی اوکه ۹؟ ممکن زده کوونکی ووایي چي: ۸ کم دی له ۹ څخه نو د ریاضي په ژبه کي داسي لیکلی شو: (۹<۸).

او د مساوی توب لپاره عین طریقه کارول کیږي خو توپیر دا دی چي د پروانو شمیر او د ګلانو شمیر




سره مساوي وي او زده کوونکي امکان لري کیدای شي ځواب ووایي چي د پروانو شمیر او د ګلانو شمیر سره برابر دی، یعنی زده کوونکي صحیح کارکړی دی ښوونکی به تشریح وکړي چي برابری ته د ریاضي په ژبه، مساوی وایی. (٦=٦).

## ۸ ـ د ګل او پروانې سره لوبه


**موخه:** د جمعې علامې پېژندنه.

**موده:** د درسي یوساعته


**د اړتیا وړ درسي مواد:** ۱۵ دانې پلکونه چه ګلان پرې انځور شوي دي، ۱۵ دانې پلکونه چه پروانې پرې انځور شوي دي، Patafix سرېښ.

**فعالیت:** په انفرادی توګه کارکیږی

د کتاب د دریم فصل څخه



تبصره: مطلب د جمعې حل کول نه دی خو: ښکاره کول د جمعې علامې او د تبد یلېدو خاصیت د جمعې عملیې کې دی، مخکې له دې چې جمعې عملیه پیل کړو لاندې فعالیت سرته رسوو: د لوبې سرته رسول: په یو کسیزه توګه کارکیږی. په دې مرحله کې د ګلانو شمیر له نه (۹) څخه زیـات د تختې پرمخ ځـوړنـدوو تر څو زده کوونکې له ستونزې سره مخامخ شي او د زده کوونکي څخه پوښتنه وشي چې د ګلانو د شمیر په انـدازه له ښوونکي نه پروانې واخلئ. خو، زده کوونکی نهو (۹) څخه زیات نه پیژني. ښوونکی ګـوري چې زده کوونکي خپله ستونزه څنګه حل کـولای شي د مخامخ انځور په څیر.زده کوونکي له نه (۹) زیات نه پیژني، ممکن خپل ستونزې په دې ډول حل کـړي: ۷ یو او ۵ پروانې بل راکـړه! بل زده کوونکی چه زیرک دی امکان لری چه ووایی: چه ۹ یو او ۳ نوري پروانې راکـړه نو زده کوونکي ته به وویـل شي چـې: په ریاضي کې ۹ یو او ۳ نور پرځای (۳ + ۹) او د ۷ یو ۵ نور پر ځای (۵ + ۷) څخه کار اخلو5



## ۹ ــ د یو رقمي اعدادو جمع کول د یو رقمي اعدادو سره

**موخه:** زده کوونکي وکولای شي یورقمي عدد د یو رقمي عدد سره جمع کړي.

**موده:** ۵ تر ۸ درسي ساعتونه .


**داړتیا وړ درسي مواد:** لوبیا

**فعالیت:** دغه فعالیت په دلییزه توګه، جوړه یي او یوکسیزه (انفرادی) توګه ترسره کیږي د مثال په توګه: د هر ګروپ لپاره یو اندازه لوبیا ورکوو او د هر ګروپ نه غواړو چي دورکړل شویو لوبیا څخه ځورقمه دجمعي عمليي جوړولای شو وروسته د هر ګروپ استازی خپل کار تشریح کوي.

د کتاب د دویم فصل څخه

**تبصره:** په دي برخه کي د دوه یو رقمي اعدادو حاصل جمع، دوه رقمي عددونه ونشی.

**د لوبي سرته رسول:** لمړی دوه عدد دجمعي په حالت کي د تختي پرسر لیکو، وروسته له لوبیا سره دجمعي عملیه سرته رسوو او ټول زده کوونکي مشاهده کوي . د لاندی مثال په توګه :





### د جمعي عمليي جوړول د زده کوونکو په خوښه د لوبیا له مخی

**فعالیت:** هر ګروپ ته ۹ ، ۹ دانی لوبیا ورکوو، او له هغوی څخه و غوښتل شی چی له همدغه لوبیا څخه ځو مختلف د جمعي عمليي جوړولای شو. وروسته د هر ګروپ استازی خپل کار تشریح کړي.

**نهمه بیلګه:** ۹ داني لوبیا زده کوونکي ته ورکوو چی له همدغه لوبیا څخه په خپل خوښه د جمعي عمليي جوړی کړي.

امکان لري چی زده کوونکي د ورکړل شوي لوبیا څخه لکه د مخامخ شکل د جمعي عمليي جوړی کړي.




**فعاليتونه:** د لاندي چوکاټونه تش ځايونه د مناسبو اعدادو باندي ډک کړئ.



--------- + --------- = ---------




--------- + --------- = ---------



--------- + --------- = ---------



--------- + --------- = ---------



--------- + --------- = ---------



--------- + --------- = ---------



--------- + --------- = ---------



--------- + --------- = ---------

## د یو رقمي اعدادو جمع کول د یو رقمي اعدادو سره په جدول کی.

لمړي ځل جدول جوړوو دویمه ځل د جدول کین اړخ ته د جمعي علامی او یو رقمی عددونه له ۱ څخه تر ۸ پوری ولیکل شي او د جدول ښي اړخ ته د جمعي علامی مخامخ یو عدد ولیکل شي وروسته د کین اړخ ټول عددونه د ۱ او ۲ سره جمع او د هر یو عدد مخامخ ته ولیکل شي.

**بیلګه:** دجدول کین اړخ ټول عددونه یو عدد سره جمع کوو.

| + | ۱ |
|---|---|
| ۰ | ۱ |
| ۱ | ۲ |
| ۲ | ۳ |
| ۳ | ۴ |
| ۴ | ۵ |
| ۵ | ٦ |
| ٦ | ۷ |
| ۷ | ۸ |
| ۸ | ۹ |

**فعالیت:**

لاندي جدول بشپړ کړي.

| + | ۲ |
|---|---|
| ۰ | |
| ۱ | |
| ۲ | |
| ۳ | |
| ۴ | |
| ۵ | |
| ٦ | |
| ۷ | |
| | |

**تمرين:**

1 – لاندي تش ځايونه جمع او بشپړ کړي.

| | | |
|---|---|---|
| ------ + ۳ = ۷ | ۲ + ----- = ۸ | ----- + ۴ = ۹ |
| ------ + ۵ = ۷ | ۳ + ----- = ۸ | ----- + ۳ = ۹ |
| ------ + ٦ = ۷ | ۴ + ----- = ۸ | ----- + ۲ = ۹ |

۲ – لاندي تش ځايونه په خپل خوښه د مناسبو اعدادو سره بشپړ کړي.

| | | |
|---|---|---|
| ------ + ------ = ۵ | ------ + ----- = ٦ | ----- + ------- = ۷ |
| ------ + ------ = ۸ | ------ + ----- = ۹ | ----- + ------- = ۴ |
| ------ + ------ = ۷ | ------ + ----- = ۸ | ----- + ------- = ۹ |

## د جمعی تبدیلدو خاصیت او د صفر عملیه په جمع کې

**موخه:** که چیرې د جمعي په عملیه کې ځایونه بدلون ورکړو په حاصل کی یی کوم بدلون نه راځي همداسي د جمعي په عملیه کې، که چېرې صفر د هر عدد سره جمع کړو په حاصل کې کوم بدلون نه راځي.

- په ډلییزه توګه کارترسره کیږی.
- د بېلګې په توګه دجمعي عملي پوښتني هرګروپ ته ورکوو (د جمعي اجزاو ته بدلون ورکړل شی ترڅو ورکړل شوې عمليې حل کړي. همدارنګه زده کوونکي په انفرادی توګه تختې ته غواړو، د جمعي پوښتني د تختې پرسر لیکو او د هغوی څخه غواړو ترڅو ورکړل شوي پوښتني حل، او د جمعي اجزاو ځای ته بدلون ورکړي.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱+۰=۱<br>۰+۱=۱ | ۲+۰=۲<br>۰+۲=۲ | ۳+۰=۳<br>۰+۳=۳ | ۴+۰=۴<br>۰+۴=۴ | ۵+۰=۵<br>۰+۵=۵ | | |
| ۱+۲=۳<br>۲+۱=۳ | ۲+....=۳<br>۱+....=۳ | ۳+۱=.....<br>....+۳= ۴ | ...+۱=۵<br>۱+۴=.... | ۵+۱=۶<br>....+۵=۶ | | |
| ۴+۳=۷<br>۳+...=۷ | ۵+۳=۸<br>۳+...=۸ | ....+۴=۹<br>۵+۴=.... | ۲+۴=۶<br>۴+۲=۶ | ۷+۲=۹<br>۲+۷=۹ | | |

**فعالیت:** لاندې تش ځایونه بشپړ کړي.

۲ + ---- = ۵ + ۲ = ------

۳ + ---- = ۲ + ۳ = ------

۳ + ---- = ۶ + ۳ = ------

۰ + ۴ = ۴ + ۰ =۴

------- + ۳ = ۳ + ۰ = ------

------- + ۴ = ۴ + ۰ = ------

## ۱۰ ـ د یو رقمي عدد تفریق د یو رقمي عدد څخه

**موخه:** زده کوونکي وکولای شي یورقمي عدد د یو رقمي عدد و څخه تفریق کړي.

**موده:** د ۵ درسي ساعتونو څخه تر ۸ ساعتو پورې.

**د اړتیا وړ درسي مواد:** لوبیا او هغه پلکونه چې پروانه پکې چاپ شوی ده.

**فعالیت:** په ډلییزه توګه کار تر سره کیږي.

د کتاب د دریم فصل

**تبصره:** بیلې بیلې پوښتنې هر ګروپ ته ورکوو او دهر ګروپ استازی د پوښتنو د حل نه وروسته په تختې کې حل او تشریح کوي. هر زده کوونکی کولای شي په انفرادي توګه پوښتنې وکړي.


**لمړی بیلګه:** درې پروانې دبڼاخ په سر ناستې وې یوه یې والوته، اوس پر ښاخ کې څوپروانې پاتې دي؟



۳ ـ ۱ = ۲


**دوییمه بیلګه:** د لوبیا سره هم کولای شو دتفریق مفهوم بیان کړو، یو اندازه لوبیا په لاس کې اخلو او شمیرو یې، دمثال په توګه ۸ دانې لوبیا خپل لاس کې اخلو او درې دانې ترې کموو لکه لاندې بڼه:

۸ ـ ۳ = ?





۸ ـ ۳ = ۵

**دریېمه بیلګه:**





**څلورمه بېلګه:** په لاندې شکلونو کې مرغۍ ليدل کيږي، که چيرې يو شکل نه ۳ داني او د بل شکل نه ۴ داني مرغۍ والوځي؟ نو په هر شکل کې څو داني مرغۍ پاتې دی.








**فعاليت:** په لاندې شکلونو کی پنسلونه ليدل کيږي چی يو شمير پنسلونه نښه شوی دی يعنی اخيستل شوی دی په هر شکل کې څو، څو پنسلونه پاتی دی؟







**پېنځمه بېلګه:** د يوې اوسپنې د ميلې اوږدوالي ۶ سانتي متره ده، که چېرې احمد دهغه نه ۲ متره رنګ کړي نو څلور متره يې سپين پاتې کيږي لکه لاندې انځور.



٦ _ ٢ = ۴

**تمرين ۱:** دغه تمرين، په يوکسيزه توګه زده کوونکو ته ورکول کيږي ترڅو چې زده کوونکي، پوښتنې خپلو کتابچو کې حل کړي.



۹ _ ..... = ۴     ۷ _ ۵ = ......     ..... _ ۴ = ۲     ...._ ... = ۳

**تمرين** ۲: دغه تمرين په ډلييزه توګه سر ته رسيږي. لکه په لاندې پوښتنو کې، که د تفريق حاصل په اول سطر کې ۵ او په دويم سطر ۴ کيږي، کړی ترينه تاو کړئ. همداسې زده کوونکي اجازه لري څو ځوابونه په اول سطر او څو ځوابونه په د وييم سطرکې، کړی ترې تاو کړي.

۵ → ۹ - ۴   ۹ - ۶   ۸ - ۲   ۸ - ۳   ۷ - ۲   ۶ - ۱   ۵ - ۰

۴ → ۹ - ۶   ۹ - ۵   ۸ - ۳   ۷ - ۳   ۵ - ۱   ۶ - ۲   ۸ - ۴

**تمرين۳:** حل او بشپړ کړئ.

| − | ۳ | ۱ | ۲ | ۴ |
|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۵ | | | ۴ |
| ٦ | | | | |
| ۵ | | | | |

| − | ۳ | ۵ | ۲ | ۴ |
|---|---|---|---|---|
| ۹ | ٦ | | | |
| ۷ | | | | |
| ۸ | | | | |

## ۱۱ – په ډېرې اندازې، لوبيا سره لوبې

**موخه:** د لسيز پيژندل

**موده:** درسي دوه ساعته.


**د اړتيا وړ درسي مواد:** لوبيا ۰,۵ کيلوګرامه، ۲۵ داني وړوکي قطۍ، د لسيز جوړولو لپاره.

**فعاليت:** په ډلييزه توګه فعاليت سرته رسيږی.


د کتاب د ځلورم فصل څخه

**تبصره:** د هر ګروپ لپاره په بيله، بيله اندازي لوبيا ورکوو چي د نه (۹) څخه ډير وي. لکه: د (۲۷) څخه لږ يا ډير ورکړل شي، د تش قطۍ ګانو سره. وينو چي زده کوونکي له ستونزو سره مخامخ کيږي. د ستونزو د حل لپاره پيژندل کيږي. هرې ډلي ته ويل کيږي چي نه (۹) جمع يو لوبيا را اخلو، په قطۍ کي اچوو چي له لس څخه نه زيات، او نه کم شي چه لاندې تشريح شوي دي.


**د لوبی سرته رسول:** لوبه په ډلييزه توګه سر ته رسيږی. د ګروپونو شمير نظر د ټولګي د زده کوونکو په شميره تنظيميږي. د لسيز پيژندلو لپاره د لوبيا بيل، بيل اندازې هر ګروپ ته ورکوو. د لاندې انځورنو په څير:





زده کوونکوته وايو چه دهم دغه لوبيا په اندازه له ښوونکي څخه پرواني واخلئ زده کوونکي مخکې له مخکې د جمعي علامې سره پيژندکلوي پيدا کړي ده، او زده کوونکي د نه (۹) څخه زيات نه پوهيږي. ممکن دغسي عمل وکړي:




د دویيم ګروپ کار




د دریيم ګروپ کار




لکه چې یو زده کوونکي وایی ۵+۷+۴+۹ +۳ داني پرواني راګړه د زده کوونکو د کار څخه وروسته، ښوونکی هغوی ته وایي چې ستونزې داسې نه حل کیږي که چیرې د یو شي اخستلو لپاره دوکان ته ورشئ دوکاندار ته وواياست چې ۵+۷+۴+۹+۳ داني قلمونه یا کتابچې راکړه نو دا کار ستونزمن ښکاریږي که چیرې شمیرله دینه ډیر شي ممکن ستونزې زیاتې شي، د دې ستونز و د حل لپا ره لسیز ور پیژنو. زده کوونکی تر اوسه پورې د نه(۹) څخه زیات نه پیژني اوس لوبیا نه کار اخلو نه(۹) لوبیا اخلو جمع یو لوبیا کوو چه ۱۰ یویز کیږي لس یویز اخلو یوقطی کې اچو او د قطی سربندوو، چه یو لسیز جوړوي لکه دلاندې انځور په څیر:




## ۱۲ ــ الف: د لسیزو اعدادو په سیستم باندې کار


| |
|---|
| **موخه:** د د وه رقمي اعدادو پیژندل |
| **موخه:** درسي څلور ساعتونه |
| **د اړتیا وړ درسي مواد:** لوبیا ۰,۵ کیلوګرامه، وړوکی بوتل ۲۵ داني د لسیز د جوړولو لپاره. پلکونه چې دلسیز په څیر بنودل شوي او پلکونو چې یویز او لسیزیي پرمخ کې لیکل شوی دی. او سریښ Patafix. |
| **فعالیت:** په ډلییزه توګه فعالیت سرته رسیږی. |
| د کتاب دڅلورم فصل څخه |

**تبصره:** د ډلییزو کار موخه، یویز او لسیز پیژندنه د دوه رقمي اعدادو لیکنه. د یویز او لسیز د پیژندلو لپاره د دوه رقم رنګونو څخه کار اخیستل شوی.

**د لوبی سرته رسول:** کار په ګروپي او انفرادی توګه سرته رسیږی، د بیلګي په توګه: د هر ګروپ لپاره لوبیا چه تعداد معلوم وي، سره د تش قطی ورکوو چې له همدغه لوبیا څخه لسیز او یویز جوړکړي.
د هر ګروپ استازی خپل کار تشریح کړي، او په انفرادي توګه کولای شو د زده کوونکو څخه پوښتنه وکړو چه ۱۲ ولیکه؟ څو یویز لري او څو لسیز؟ وروسته ښوونکي ۱۲ داني لوبیا، ۱۱ داني لوبیا، ۲۵ داني لوبیا اخلي قطی کې اچوي، یویز او لسیز یی معلوموی.





د دوه او دری مثال نه وروسته، له زده کوونکي څخه پوښتنی کوو لکه لاندی شکلونه چه څو یویز او څو لسیز لري؟



| لسیز | یویز |
|---|---|
| ۱ | ۵ |

**فعاليت:** لاندي شكلونه لكه حل شوي شكل غوندي بشپير كړي.




| لسيز | يويز |
| --- | --- |

-------

----- = ..... يويز + ..... لسيز

------ = ------ + ------



| لسيز | يويز |
| --- | --- |

٢ ٥

٢ ٥ = ٥ يويز + ٢ لسيز

٢ ٥ = ٥ + ٢٠



| لسيز | يويز |
| --- | --- |

-------

----- = ..... يويز + ..... لسيز

------ = ------ + ------




| لسيز | يويز |
| --- | --- |

-------

----- = ..... يويز + ..... لسيز

------ = ------ + ------




| لسيز | يويزا |
| --- | --- |

-------

----- = ..... يويز + ..... لسيز

------ = ------ + ------



| لسيز | يويز |
| --- | --- |


-------

----- = ..... يويز + ..... لسيز

------ = ------ + ------

## ۱۲ – ب: د لسم عدد پیژندنه


اوس د لسم عدد د پیژندنګلوی لپاره، ۹جمع یوه لوبیا(۱۰ لوبیا) اخلو نظر لاندیني انځور، هغه په قطی کې اچوو. لیدل کیږي چې یویز هیڅ پاتې نه دی مونږ مخکې ویلي وه چې: په ریاضي کې هیڅ ته صفر وایي په دې مانا چې صفر یویز او یولسیز.




په دې مرحله کې هغه پلکونو نه چې یو طرف یې عدد او په بل طرف یې عدد په شکل کې ښودل شوی دی، کار اخلو او له زده کوونکو څخه پوښتو چې ۲۵ څو یویز اوڅو لسیز لري؟





**فعالیت:** لاندې بڼې څو یویز او څو لسیز لري؟



وروسته يوه اندازه لوبيا، او وړوکی قطی هرې ډلې ته ورکوو چې له هغه نه يويز او لسيز جوړکړي، ښوونکی له هرې ډلې څخه پوښتنه کوي چې څو يويز لرې او څو لسيز؟

لاندې انځور په ځير:




A ډله امکان لري ووايي، زمونږ اته يويز او څلورلسيز شوی دی. وروسته ښوونکی وايي: اته يويز او څلور لسيز اته څلوېښت منل شوي دي.

| يويز | لسيز |
| --- | --- |
| ۸ | ۴ |

Bد ډله امکان لري ووايي چې زمونږ شپږ يويز او دوه لسيزشوی دی. وروسته ښوونکی وايي، شپږ يويز او دوه لسيز شپږويشت منل شوی دی.


| يويز | لسيز |
| --- | --- |
| ٦ | ۲ |

د C ډله به خامخوا ووايي چې زمونږ (۹) نه يويز او دوه لسيزشوی دی. وروسته ښوونکی وايي، نه يويز او دوه لسيز (نه ويښت) منل شوی دی.

| يويز | لسيز |
| --- | --- |
| ۹ | ۲ |


پورتني بېلګو په څېر تر۹۹ پورې مخ ته ځو.

**تمرين:** لاندې تش ځايونه د شكلونو له مخی څخه بشپړي.




..... يويز + .........لسيز = ......

......... + ......... = .......




..... يويز + ....... لسيز = ٢٦

......... + ......... = ٢٦




..... يويز + .........لسيز = ......

......... + ......... = .......




..... يويز + .........لسيز = ......

......... + ......... = .......



..... يويز + .........لسيز = ......

......... + ......... = .......



..... يويز + .........لسيز = ......


......... + ......... = .......

## ۱۳ ـ سلیز عدد باندې کار (فعالیت)

| |
|---|
| **موخه:** د درې رقمي ا عدادو زده کړه. |
| **موده:** درسي درې ساعته. |
| **د اړتیا وړ درسي مواد:** لوبیا ۰,۵ کیلوگرامه، وړوکی بوتل د ۲۵ دانه یي لسیز د جوړولو لپاره، ۲ کڅوړې د سلیز جوړولو لپاره، پلکونه چه یویز، لسیز او سلیز چې په شکل کی ښودل شوي دي، پلکونه چه یویز، لسیز او سلیزیي پر مخ لیکل شوی دی او سریښ Patafix. |
| **فعالیت:** کار د گروپی او انفرادی په بڼه سرته رسیږی. |
| د کتاب شپږم فصل. |


**تبصره:** د بیلگې په توگه: د هر گروپ لپاره ټاکل شوې لوبیا(۱۰۰ دانی)، قوطی او کڅوړه ورکوو چې له همدغه ټاکل شوې لوبیا، قوطی او کڅوړې ځخه لسیز او سلیز جوړ کړی او د هر گروپ استازی خپل کار تشریح کوي. لمړې ځل د همدغه ورکړ شوی لوبیا څخه لسیزونه جوړ کړي لیدل کیږی چې لس لسیز شوی دی ، دوییم ځل لس لسیز په یو کڅوړي کي واچوی یو سلیز جوړ کړي لکه لاندې انځور په څیر. همدا رنگه کولای شو د زده کوونکو څخه پوښتني وکړو چې (۱۰۰) ولیکه یویز، لسیز او سلیز یې وښییه!

**د لوبي سرته رسول ۱:** مونږ کولای شو سلیز په درې بڼو وښیو کله چې سل دانې لوبیا ولرو ویلای شوچې سل یویز لرو وروسته د سل یویز څخه لسیزونه جوړو او لس لسیز په یو کڅوړې کي اچو او سلیز جوړوو.





| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۰ | ۱۰۰ | ۱۰۰ |
| صفر یویز صفر لسیز یو سلیز | صفر یویز لس لسیز | سل یویز |

**د لوبې سرته رسول ۲:** زده کوونکو تر ۹۹ پورې زده کړې دي. اوس نه یویز او نه لسیز لرو کله چې یو یویز ورسره یوځای کړو، لس یویز ښخه یو لسیز جوړو چې له مخکې نه لسیز سره، لس لسیز کیږي.




اوس کولای شو ۱۰۰ په درې بڼو وښیو:

۱- کله چه ۱۰۰ ولرو لکه لاندې بڼه.



سل یویز

۲- کله چه سل یویزونه ولرو کولای شو چې د هغه
ښخه لس لسیز جوړ کړو لکه د لاندې بڼي په څير



۱۰۰

صفر یویز لس لسیز

۳- کله لس لسیزونه ولرو کولای شو چې د هغه
ښخه یو سلیز جوړ کړو لکه لاندې بڼي په څير:



۱۰۰

صفر یویز صفر لسیز یو سلیز

**فعالیت ۱ :** لاندې شکل ته و ګورئ او تش ځایونه په مناسب اعدادو سره ډک کړي .



| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | | |

**فعالیت ۲ :** لاندې شکل ته و ګورئ او تش ځایونه په مناسب اعدادو سره ډک کړي.



| سلیز | لسیز | یویز |
|---|---|---|
| | | |

# ۱۴ ــ د ۵۰ × ۵۰ تختې سره لوبه


**موخه:** د عدد مخکني او روستني اعدادو پېژندنه او د دوه عددو تر منځ تر سلو پورې.

**موده:** دوه درسي ساعتونه.

**د اړتیا وړ درسي مواد:** ۵۰ × ۵۰ سانتی متره د لرګي تخته او ۵ × ۵ سانتي متره پلکونه چې اعداد پرې لیکل شوي دي.

**فعالیت:** په ډلییزه توګه فعالیت سرته رسیږی.

تخته په سلو مساوي برخو وېشل شوی او وروسته د لاندیني دوییم انځور په څېر ، اعداد د یوه څخه تر سلو بنودل شوي دي.



۱


| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
| ۱۱ | ۱۲ | ۱۳ | ۱۴ | ۱۵ | ۱۶ | ۱۷ | ۱۸ | ۱۹ | ۲۰ |
| ۲۱ | ۲۲ | ۲۳ | ۲۴ | ۲۵ | ۲۶ | ۲۷ | ۲۸ | ۲۹ | ۳۰ |
| ۳۱ | ۳۲ | ۳۳ | ۳۴ | ۳۵ | ۳۶ | ۳۷ | ۳۸ | ۳۹ | ۴۰ |
| ۴۱ | ۴۲ | ۴۳ | ۴۴ | ۴۵ | ۴۶ | ۴۷ | ۴۸ | ۴۹ | ۵۰ |
| ۵۱ | ۵۲ | ۵۳ | ۵۴ | ۵۵ | ۵۶ | ۵۷ | ۵۸ | ۵۹ | ۶۰ |
| ۶۱ | ۶۲ | ۶۳ | ۶۴ | ۶۵ | ۶۶ | ۶۷ | ۶۸ | ۶۹ | ۷۰ |
| ۷۱ | ۷۲ | ۷۳ | ۷۴ | ۷۵ | ۷۶ | ۷۷ | ۷۸ | ۷۹ | ۸۰ |
| ۸۱ | ۸۲ | ۸۳ | ۸۴ | ۸۵ | ۸۶ | ۸۷ | ۸۸ | ۸۹ | ۹۰ |
| ۹۱ | ۹۲ | ۹۳ | ۹۴ | ۹۵ | ۹۶ | ۹۷ | ۹۸ | ۹۹ | ۱۰۰ |

۲


**د لوبې سر ته رسول:**

**لومړی ېپلګه:** له تختې څخه داسې کار اخلو: هغه اعداد چې وړو تختو لیکل شوي دي، لومړی د یوه څخه تر لسو پورې، دوه عدد د تختې پر مخ ږدو او پاتی اعداد په نا منظمه توګه د تختې یو څنګ ته ږدو لکه لاندینی انځور، دوییم او شپږم عدد د تختې پر سر خپل ځای کې پرېږدو او له زده کوونکو څخه پوښتو چې: د دوییم او شپږم عدد تر منځ کوم اعداد راځي؟


زده کوونکي د اعدادو پلکونه چې تختې څنګ ته ایښودل شوي دي، هر یو ترتیب سره خپل ځای کې پرېږدي.



**دوییمه ببلګه:** د انځور په ځبر، ۲۷عدد پر تختي خپل ځای کي پرېږدو او روسته له زده کوونکو څخه پوښتو چي: ۲۷ عدد څخه مخکي کوم عدد او وروسته کوم عدد راځي؟
د اعدادو پلکونه چي تختي څنګ ته اېښودل شوي دي پيدا او خپل ځای کي پرېږدي!




**دریيمه ببلګه:** د لاندیني انځور په ځبر، ۱۴ او ۱۶عدد د تختي پر سر خپل ځای کي پرېږدو او له زده کوونکو څخه غواړو چي: د ۱۴عدد څخه مخکي، د ۱۴ او ۱۶عدد تر منځ او د ۱۶عدد څخه روسته کوم اعداد راځي؟
د اعدادو پلکونه چي تختي چپ لورې ته اېښودل شوي دي، پيدا او هر يو خپل ځای کي په ترتيب سره پرېږدي لکه لاندې انځور:




.

## ۱۵ ــ د ۵۰ × ۵۰ تختې سره لوبه (د اعدادو پرتله کول)


**موخه:** د لړ او دېر اعدادو پېژندنه (زده کوونکي کوچني او غټ اعداد و پېژني).

**موده:** درسي يو ساعت .

**د اړتيا وړ درسي مواد:** ۵۰ × ۵۰ سانتی متره د لرګيو تخته، ۵ × ۵ سانتی متره پلکونه چې، اعداد د يوه څخه تر سلو پرې ليکل شوي دي. فلش کارتونه چې، کوچنی او غټه علامه پرې ليکل شوي ده.


**فعاليت:** په ډلييزه توګه فعاليت سرته رسيږی.

د کتاب د شپږم فصل




**د لوبې سر ته رسولو لاره:** لومړی اعداد چې لاندې پر تختې ليدل کيږي، هرې ډلې ته ورکوو چې پرتله (مقايسه) يې کړي، وروسته د هرې ډلې استازی راځي او د تختې څلور خواوو ته کښېني او اعداد سره پرتله کوي، ښوونکی د هرې ډلې کار ګوري او يادداښتوي يې، روسته ارزونه کوي چې کومې ډلې صحيح کار کړی او کومې ډلې اشتباه کړي ده لکه لاندې انځور:

هغې ډلې چې اشتباه کار کړی دی.



هغې ډلې چې صحيح کار کړی دی.



**تمرین:**

۱ ـ لاندې اعداد له کمو څخه زیاتو اعدادو ته ترتیب کړئ.

۷۶ ـ ۹۴ ـ ۷۹ ـ ۵۶ ـ ۹۱ ـ ۶۸ ـ ۸۲

< < < < < <

۲ ـ لاندې اعداد له زیاتو څخه کمو اعدادو ته ترتیب کړئ.

۹۷ ـ ۸۱ ـ ۷۵ ـ ۵۹ ـ ۶۷ ـ ۹۵ ـ ۷۲

< < < < < <

## ۱٦ ــ د دوه رقمي اعدادو جمع کول د يو رقمي اعدادو سره

**موخه:** زده کوونکي وکولای شي دوه رقمي عدد د يو رقمي عدد سره جمع کړي.


**موده:** ۵ څخه تر ۸ درسي ساعته.

**د اړتيا وړ درسي مواد:** لوبيا، وړوکي قوطۍ د لسيز جوړولو لپاره ۲۵ داني.


**فعاليت:** په ډليزه توګه فعاليت سرته رسيږی.

د کتاب څلورم فصل څخه.

**لمړی بېلګه:** ۱۲ جمع ۷ او ۲۱ جمع ۸ کوو لکه لاندي انځورونه.




**د لوبي سر ته رسولو لاره:** کله چي ۱۴ د ۷ سره يوځای کړو، لمړی څلور يويز د اووه يويز سره جمع کوو چي يولس يويز او يو لسيز کيږي، اوس لس يويز باندي کړی اوباسو او يو لسيز جوړوو چي يو يويز او دوه لسيز کيږي، او همدا رنګه هري ډلي ته پوښتني ورکوو چي حل يي کړي د حل نه وروسته هر ګروپ خپل پوښتنه تخته باندي حل کړئ.





**بېلګه:** جمع او بشپړ کړئ.


| + | ١١ | ٦ | ٠ | ٧ |
|---|---|---|---|---|
| ٢ | ١٣ | ٨ | ٢ | ٩ |
| ٥ | ١٦ | ١١ | ٥ | ١٢ |
| ٤ | ١٥ | ١٠ | ٤ | ١١ |


**حل:** د جدول کين خوا لمړی عمودي ستون د جدول لمړي افقي ستون سره جمع کوو او د جمعي حاصل د هر يوه مخ ته ليکو. بېلګه: دويم عدد د ١١، ٦، ٠ او ٧ اعدادو سره جمع کوو او د جمعي حاصل دوه ته مخامخ د هر يو عدد لاندې ليکو او وروسته ٥ او ٤ همدا رنګه جمع کوو لکه مخامخ جدول:

**تمرين:** د شکلونو له مخې جمع اوبشپړ کړئ.



**درییم فعالیت:** حل او بشپړ کړئ.

| + | ٩ | ۵ | ٨ | ٦ |
|---|---|---|---|---|
| ١٩ | | | | |
| ١٧ | | | | |
| ١٣ | | | | |

| + | ١٢ | ١١ | ١٣ | ١۴ |
|---|---|---|---|---|
| ٣ | | | | |
| ٨ | | | | |
| ۵ | | | | |

**څلورم فعالیت:** حل او بشپړ کړئ.

| + | ٧ | | | |
|---|---|---|---|---|
| ١٦ | | | ٢٢ | |
| ١۵ | | ٢۴ | | |
| ١٢ | | | | ٢٠ |

| + | | ١۵ | | |
|---|---|---|---|---|
| ۴ | ٢٠ | | ٢١ | |
| ٧ | | ٢٢ | | |
| ٩ | | | | ٢١ |

## ۱۷ ــ د دوه رقمي اعدادو جمع د دوه رقمي اعدادو سره


| |
|---|
| **موخه:** زده کوونکي وکولای شي د دوه رقمي عدد د دوه رقمي عدد سره جمع کړي. |
| **موده:** ۵ څخه تر ۸ درسي ساعته. |
| **د اړتیا وړ درسي مواد:** لوبیا، وړوکي قوطی د لسیز جوړولو لپاره ۲۵ داني. |
| **فعالیت:** په ډلییزه توګه فعالیت سرته رسیږی. |
| د کتاب د اوم او اتم فصل څخه |

**تبصره:** لمړی تولګی په نظر کي نیولو سره، په دغه درس کي د دوه رقمي اعداد و د جمعي حاصل دري رقمي عدد را نشي.

**د لوبي سر ته رسولو لاره:** بیل بیل پوښتني هري ډلي ته ورکوو او وروسته د هري ډلي استازی خپله پوښتنه په تختي باندي حل او تشریح کوي. او همدارنګه په انفرادي توګه د زده کوونکو څخه پوښتني کولای شو.


**لمړی بیلګه:** غواړو ۱۳عدد د ۱۲عدد سره جمع کړو.

**حل:** لکه تېري بیلګي غوندي عمل کوو.



| لسیز | یویز |
|---|---|
| ۱ | ۳ |
| + ۲ | ۴ |
| ۳ | ۷ |

**دوییمه بیلګه:** د ۲۵ عدد سره ۲۳ عدد جمع کوو. لمړی یویز له یویز سره جمع کوو او لسیز له لسیز سره جمع کوو.




| لسیز | یویز |
|---|---|
| ۲ | ۵ |
| + ۲ | ۳ |
| ۴ | ۸ |

**دریيمه بيلګه:** د ۱۰ عدد د ۱۱عدد سره جمع کوو.

**حل:** د درسي موادو په کارولو سره، د دوه رقمي عدد جمع کول د دوه رقمي عدد سره يويز د يويز، او لسيز د لسيز سره.


| لسيز | يويز |
| --- | --- |
| ١ | ١ |
| + ١ | ٠ |
| ٢ | ١ |



**څلورمه بيلګه:** د ۳۰ عدد جمع د ۲۰ عدد سره.

**حل:** لمړی د درسي موادو سره، صفر يويز د صفر يويز، دری لسيز د دوه لسيز سره جمع کوو او د مواد له مخې تشریح کوو.


| لسيز | يويز |
| --- | --- |
| ٣ | ٠ |
| + ٢ | ٠ |
| ٥ | ٠ |



**پنځمه بيلګه**: د ۲۲ عدد جمع د ۳۴ عدد سره.


**حل:** لمړی د درسي موادو سره، دوه يويز د څلور يويز، دوه لسيز د دری لسيزو سره جمع کوو او د مواد له مخې تشریح کوو

| لسيز | يويز |
| --- | --- |
| ٢ | ٢ |
| + ٣ | ۴ |
| ۵ | ٦ |




**تمرین:** د شکلونو له مخی جمع او بشپړ کړئ.


| لسیز | یویز |
|---|---|
| ٣ | ٦ |
| + ٢ | ٣ |




| لسیز | یویز |
|---|---|
| ٢ | ٧ |
| + ٣ | ٢ |




| لسیز | یویز |
|---|---|
| ٢ | ٥ |
| + ٢ | ۴ |




| لسیز | یویز |
|---|---|
| ٣ | ٥ |
| + ٢ | ٣ |



| لسیز | یویز |
|---|---|
| ٣ | ۴ |
| + ٣ | ٣ |



| لسیز | یویز |
|---|---|
| ٣ | ٧ |
| + ٢ | ٠ |



# ۱۸ ــ د دوه رقمي عددو تفريق د دورقمي عدد نه چې يويز رقم يې صفر وي

**موخه:** زده کوونکي وکولای شي دوه رقمي عدد د دوه رقمي عدد نه تفريق کړي چې يويز رقم يې صفر وي.

**موده:** ۵ څخه تر ۸ درسي ساعته.


**د اړتيا وړ درسي مواد:** لوبيا او ۱۵ داني وړوکي قوطۍ.

**فعاليت:** په ډلييزه توګه فعاليت سرته رسيږي.


د کتاب د نهم فصل څخه.

**تبصره:** بيل بيل پوښتني هرې ډلې ته ورکوو او د هرې ډلې استازی، د پوښتني د حل نه وروسته تختې باندې تشريح کړي. او همدارنګه کولای شو په انفرادي توګه له زده کوونکو څخه پوښتني وکړو.


**لمړی بيلګه:** د ۲۰ عدد څخه ۱۰عدد تفريق کوو لکه مخامخ انځور:




**دوييمه بيلګه:** د ۳۰ عدد څخه ۲۰عدد تفريق کوو لکه لاندې انځور:




**دريیمه بيلګه:** د ۶۰ عدد څخه ۴۰ عدد تفريق کوو لکه لاندې انځور:



**تمرین:**

۱ ــ د شکلونو له مخې تفریق کړئ.



| لسیز | یویز |
|---|---|
| ۴ | ۰ |
| − ۲ | ۰ |




| لسیز | یویز |
|---|---|
| ۳ | ۰ |
| − ۱ | ۰ |



| لسیز | یویز |
|---|---|
| ۵ | ۰ |
| − ۳ | ۰ |



| لسیز | یویز |
|---|---|
| ۵ | ۰ |
| − ۲ | ۰ |



| لسیز | یویز |
|---|---|
| ۷ | ۰ |
| − ۴ | ۰ |



| لسیز | یویز |
|---|---|
| ۸ | ۰ |
| − ۵ | ۰ |

# ۱۹ ــ د دوه رقمي اعدادو تفريق د دوه رقمي اعدادو څخه

**موخه:** زده کوونکي وکولای شي دوه رقمي عدد د يو بل څخه تفريق کړي.

**موده:** ۵ څخه تر ۸ درسي ساعته.

**د اړتيا وړ درسي مواد:** لوبيا او وړوکی قوطی د لسيز جوړولو لپاره ۲۰ دانی


**فعاليت:** په ډلييزه توګه فعاليت سرته رسيږی.


د کتاب د نهم فصل څخه


**تبصره۱:** بيل بيل پوښتني هرې ډلې ته ورکوو او د هرې ډلې استازی، پوښتني د حل نه وروسته په تختې باندې تشريح کړي. او همدارنګه کولای شو په انفرادي توګه له زده کوونکو څخه پوښتنې وکړو.


**دوه يمه تبصره:** هغه بيلګې چې قرض ته ضرورت شي، کار نه دی شوی ځکه چې د لمړي ټولګي پروګرام نه دی.

**د لوبې سر ته رسولو لاره:** د دوه رقمي عدد تفريق د دوه رقمي عدد څخه: لمړی يويز له يويز څخه کموو او وروسته لسيز له لسيز څخه کموو. لکه لاندې انځور:









**تمرین:** د شکلونو په مرسته لمړی عدد ولیکي او وروسته تفریق کړئ.




| یویز | لسیز |
|---|---|
| | |
| | − |



| یویز | لسیز |
|---|---|
| | |
| | − |



| یویز | لسیز |
|---|---|
| ٨ | ٨ |
| ٨ | ٦ − |



| یویز | لسیز |
|---|---|
| ٧ | ٤ |
| ٦ | ٣ − |

**سوالات عبارتی:**

۱- یو کس ۴۷ پسونه درلود که چیرې دغه کس ۲۳ پسونه خرڅ کړي . څو پسونه ورسره پاتي کیږی؟

۲-احمد ٢٦ دانې رنګه درلود که چیرې د هغه کوچنی خور ١٣ دانی رنګي ماتی کړي اوس احمد څو دانې رنګي لری.


**اخځليكونه**

1- د دويم دبستان رياضی "داکترمحمدحسن جمالی"

2- دښونکی لارښود کتاب "سرژپتی"

3- دابتدايی سويی رياضی او حساب "روبرت ايلر"

4- دابتدايی سويی رياضی او حساب "پيرکولن"


د ریاضی لارښود
د لمړی ټولگی لپاره
۴ - ۳ = ۱
۳
+۲
۵
AFRANE
AMITIE FRANCO-AFGHANE